# خپل ليکوال شی (لومړی درجه)

| | |
|---|---|
| توضيحات | زده کوونکي به د کيسو ويلو اجزاوې په شمول د کرکټرونو، داستان، او د سواد تخنيکونو زده کړي. او دوی به په نوښتګره توګه خپل انځوريز يا ېې له جملو کتاب وليکي. |
| مخکښه پوښتنه | څه شی يوه کيسه ډېره په زړه پورې کوي؟ |
| ټولټال اړين وخت | په ۵ ورځو کې ۵ ساعته |
| اړين توکي | ورقه، رنګې او يا هم رنګه توشونه |
| د زده کړو پايلې | - د کيسې ځانګړتياوې په شمول د کرکټرونو، عنوان، پيل، وسط، پای، داستان، ستونزه او د حل لاره<br>- د ژبې قواعد لکه صفات، د ندايې علامه او داسې نور<br>- د کيسې په ويلو کې نوښت (خلاقيت)<br>- د مفاهيمو د تصور او تکامل لپاره د کيسې د نقشې کارول |
| پخواني درسونه | هيڅ |

# لومړی ورځ:

نن ورځ به تاسو د خپل د خوښو د کيسو په رابرسيره کولو سره د کيسې ويلو مختلفې اجزاوې زده کړی

| وړانديز شوی وخت | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| ۱۰ دقيقې | • خپل د خوښې کيسه ولولئ او يا ورته غوږ ونيسئ.<br>• که چيرته تاسو يوې کيسې ته لاسرسی نه لری، تاسو کولی شی هغه کيسه چې په ضميمه کې ځای پر ځای شوې ولولی. همدا راز ښوونکی يا والدين کولی شي د خپل ژوند د يوې پيښې په اړه زده کوونکو ته ووايي. (د بيلګې په توګه: ددوی د زوکړې ورځ، په کورنۍ کې د خوښۍ کومه ورځ، او يا کوم بله نمانځنه) |
| ۱۵ دقيقې | • په هغه مهال چې تاسو دې کيسې ته د اول ځل لپاره غوږ نيسئ او يا يې په لوړ غږ سره لولی، لاندې نقطې په نظر کې ونيسئ:<br>○ د کيسې عنوان (د کيسې نوم) (د بيلګې په توګه: درې خرسان او ګالډيليکان) |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7


التعليم فوق الجميع | education above all

**20 minutes** e

| | |
|---|---|
| | ○د کیسې لیکوال (هغه شخص چې دا کیسه یې لیکلې ده) د بیلګې په توګه رابرټ سووتي<br><br>○نوي کلمات (لغات)<br>○ددوی د تجربو او کیسو ترمنځ اړیکې<br>○د کیسې کرکټرونه ( کوم چې په کیسه کې د کیسې اصلي خلک/حیوانات دي) د بیلګې په توګه: ګالډیلاکونه او درې خرسه<br><br>○د کیسې تنظیمات (کوم چې د کیسې د مکان په اړه موږ ته وایي). د بیلګې په توګه: د دریوو خرسونو کور – د اوسیدلو خونه، د ویده کیدلو خونه او داسې نور. |
| **۲۰ دقیقې** | ● د لوړو لوستلو په مهال د خبرو اترو څخه کار واخلئ ترڅو د هغې کیسې لپاره چې تاسو اوریدلې ده یو انځوریزه د کیسو نقشه جوړه کړی.<br><br>● والدین باید له زده کوونکو څخه د هغوی د رسم شوو انځورونو په هکله پوښتنې وکړي. د بیلګې په توګه:<br>- «دا هلک څه کوي»<br>- « آیا دا کور زموږ د کور په څیر ښکاري؟»<br>● خپلو رسامیو ته د محاورې (خبرو اترو) په بنسټ نومونه ورکړئ.<br>● کیسه د دوهم ځل لپاره ووایئ او یا هم ورته غوږ ونیسئ.<br>● د کیسې نقشه د خورا اړینو شیانو په پیژندلو سره بشپړه کړئ چې په کیسه کې پیښ شوي دي(یا هغه شیان چې د کیسې په پیل ، مینځ او پای کې پیښ شوي دي) - دا باید د متن په څو کرښو کې په یو شکل سره توضیح شي ، د مثال په توګه.<br>- پیل: درې خرسونه د قدم وهلو لپاره له کور څخه بهر ووتل<br>- وسط: ګالډیلاک ددوی کور ته راغی، د هغوی خواړه یې وخوړل او د هغوی پر تخت باندې ویده شو<br>- پای: درې خرسونه بیرته راغلل او ګالډیلاک وتختیده<br><br>د ګالډیلاک او درې خرسونو د کیسې نقشه په لاندې ډول ده: |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| |  |
| ۱۰ دقیقې | • د هغې کیسې په اړه چې تاسو لوستلې او یا هم اوریدلې وي فکر وکړئ. ځینې اشاروي پوښتنې ممکن په لاندې ډول سره وي:<br>o آیا دا کیسه په زړه پورې وه؟ څه ځیز دا په زړه پورې کړه؟<br>o د کیسې تر ټولو غوره برخه کومه وه؟<br>o د کیسې د مختلفو بخو په اړه ستاسو احساس څه وه؟<br>o آیا تاسو ددې په اړه چې په راتلونکې کې به څه پیښ شي کونجکاو وی؟<br>o آیا ستاسو کرکټرونه او تنظیمات خوښ شول؟<br>o آیا د کیسې پای بل رنګ ته کیدای شو؟ |

## دوهمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپلو کیسو په لیکلو او یا هم تشریح کولو باندې پیل وکړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | تاسو به د کیسې ویلو فعالیت سره کار وکړئ ترڅو په نوښتګره توګه فکر وکړئ.<br>تاسو یا ستاسو د کورنۍ یو غړی باید د ۱۰ څخه تر ۱۵ پورې<br>توکې په یوه داسې خلطه کې واچوی چې د هغې څخه توکې بهر<br>ته ښکاره نه شي. (د بیلګې په توګه تاسو کولی شی لاندې توکې |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

**20 minutes**

e

| | |
|---|---|
| په خلطه کې ځای پر ځای کړئ: قاچوغه، یو د لوبو توکی، یو پنډوسکی، یو کتاب، یو ګل او داسې نور.)<br><br>● د خلطې څخه یو توکی بغیر د کتلو څخه را واخلئ او د هغه توکي په اړه یوه کیسه جوړه کړئ. د بیلګې په توګه که تاسو یوه قاچوغه اوچته کړئ نو تاسو کولی شئ داسې ووایئ:<br>- دا قاچوغه مایک نومیږي. دا ډیره خوشحاله وه ځکه چې سام یواځې شیریخ او مستې خوړلې. او له همدې کبله دې کولی شو چې همیشه یو خوندور او یخ شی وخوري.<br>- خو وروسته سام په ښوونځي کې د صحي خوارو په اړه معلومات ترلاسه کړل. هغه اوس د ترکاریو ګرم سوپ خوري. مایک ډیر ویریدلی وه ځکه هغه فکر کاوه چې د ترکاریو په خوړلو سره به هغه شین رنګ واخلي<br>- مایک سام ته د خپلې ستونزې په اړه وویل. همدا وه چې سام پریکړه وکړه چې سوپ مخکې له خوړلو څخه یخ کړي. همدا راز مایک په دې پوه شو چې په سوپ کې مالګه هم نشته.<br><br>● د کیسې د ویلو په وخت کې به ستاسو والدین تاسو وهڅوي ترڅو داسې کلمات وکاروی لکه: لومړی داسې وشول، بیا داسې وشول، له هغې څخه وروسته داسې وشول او په پای کې داسې وشول. دا کلمات به له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو ترسره شوي عملونه په ترتیب سره ووایاست. | |
| ● د خپل خلاقیت او نوښت سره به تاسو د یوې موضوع په انتخابولو او کیسه جوړولو پیل وکړی. ځیني اړینې لارښوونې په لاندې ډول دي:<br>○ د خپل د خوښې دوه حیواناتو په اړه یوه کیسه جوړه کړئ.<br>○ د خپلې خوښې یو جادویي مخلوق په اړه یوه کیسه ولیکئ.<br>○ داسې یوه کیسه ولیکئ چې په هغې کې ته او ستاسو ملګری موجود وي.<br>○ داسې یوه کیسه ولیکئ چې په هغې کې ستاسو د خوښې یو فعالیت موجود وي | ۱۰ دقیقې |
| ● د انتخاب شوې موضوع په اړه یوه کیسه ولیکئ<br>● د لاندې پوښتنو په اړه فکر وکړئ:<br>په دې کیسه کې کرکترونه څوک دي او د هغوی نومونه څه دي؟<br>○تنظیمات یې چیرته دي؟<br>○څه پیښیږي؟ یا ستوزه په کې څه ده؟<br>○د حل لاره یې څه ده؟ | ۱۰ دقیقې |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | ●هر هغه نظریه یا مفکوره چې تاسو یې لرئ رسم کړئ او یا یې ولیکئ (تاسو کولی شئ چې د نظریو لپاره د ضمیمې ځخه کار واخلئ.<br>یادوونه: هیڅ کومه بده نظریه وجود نه لري او تاسو کولی شئ د خپلو کیسو په اړه د څو ځله لپاره فکر وکړئ.<br>تاسو څه فکر کوئ چې ستاسو د کیسې لوستونکي به ستاسو د کیسې په اړه څه غبرګون وښايي؟<br>د لاندې پوښتنې په اړه فکر وکړئ:<br>تاسو به څنګه پوهیږئ چې کیسه کله پای ته رسیږي؟ |

## دریمه ورځ

نن ورځ به تاسو دکیسې د بیلابیلو برخو په لیکلو او توضیح کولو سره  د کیسې مختلفې برخې او ماهیتونه له جزئیات سره وپیژنئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | تاسو به د کیسې په جزئیاتو او مختلفو برخو د لا ښه پوهاوي لپاره د کیسې د یو تشریحي نقشې (داستان) ځخه کار واخلئ.<br><br>د کیسې د داستان هرې برخې ته زده کوونکي کولای شي جملې ولیکي او یا هم لیبلونه ورته ورکړي. د کیسې نقشه (داستان) باید لاندې نقطې له ځانه سره ولري:<br><br>تنظیمات: تنظیمات رسم کړئ. هغه زده کوونکي چې ستر دي کولای شي یو څو جملې هم ولیکي: د بیلګې په توګه: دا یو لوی زرغون باغ/پارک وه او ډیر رنګارنګ ګلان یې درلودل.<br><br>اصلي کرکټرونه: اصلي کرکټرونه رسم کړئ او نومونه یې ولیکئ. هغه زده کوونکي چې ستر دي کولای شي د کرکټرونو په اړه یو څو جملې هم ولیکي د بیلګې په توګه: کټرینه یوه ۵ کلنه د ښوونځي زده کوونکې ده او هانس یو ښکلې سپینه بتکه ده.<br><br>اصلي پیښه: ددې په اړه چې په دې کیسه کې څه ترسره کیږي یو تصویر رسم کړئ. – ستونزه او د ستونزې د حل لاره – هغه زده کوونکي چې ستر دي کولای شي یو څو جملې د جزئیاتو لپاره ولیکي. |
| ۲۰ دقیقې | کله چې د کیسې لومړنۍ نقشه (داستان) بشپړ شو، ددې په اړه معلومات ترلاسه کړئ چې تاسو مختلفو برخو ته کولای شئ چې کوم شیان اضافه کړئ. تاسو کولای شئ ټول دا موضوعات په یوه تشریحي او لیکل شوي بڼه د کیسې په داستان (نقشه) کې ځای پر ځای کړئ.<br><br>د کیسې پیل: ددې په اړه فکر وکړئ چې یو لوستونکی کوم معلوماتو په اړه غواړي پوه شي او تاسو به د کیسې په پیل کې څه غواړئ چې اضافه کړئ. ځینې چمتو کوونکي پوښتنې ښايي په لاندې ډول سره واوسي:<br><br>دې ته په کتو سره چې دا د لوستونکي اول ځل دی چې ستاسو د کیسې د کرکټرونو په اړه لولوي، تاسو کومې خبرې د کرکټرونو په اړه غواړئ هغوی ته وښایاست؟<br><br>د تنظیماتو او یا هم د کیسې د ځای (مکان) په اړه کوم معلومات غواړئ د لوستونکو سره شریک کړئ؟ |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

**20 minutes** e

| | |
|---|---|
| | دا کرکټرونه په نورمال شکل کوم فعالیتونه یا کارونه ترسره کوي او ددوی ژوند څنګه دی؟ |
| **۲۰ دقیقې** | وسط (منځ): ددې په اړه فکر وکړئ چې ستاسو د کیسې لوستونکی به د کومو موضوعاتو په اړه وغواړي د کیسې په وسط (منځ) کې ولولي یا پرې پوه شي. همدا راز، تاسو به د کیسې په منځ کې هغوی ته کومې خبرې وړاندې کړی. ځینې چمتو کوونکې پوښتنې شاید په لاندې ډول سره واوسي:<br><br>کوم شیان به کیسه د لوستلو دوام لپاره لا ډیره په زړه پورې کړي؟<br><br>هغه پیښه یا ستونزه چې په کیسه کې به را پیښه شي څه ده؟<br><br>دا پیښه د هغوی د نورمال ژوند سره چې په پیل کې يې لري څه توپیر لري؟<br><br>آیا مکان (تنظیمات) همغه دي او تغیر يې خوړلی دی؟ |

## خلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو د پای یا خلاصه کوولو په اړه فکر وکړی همدا راز به تاسو د کرکټر د احساستو په اړه ډیر توضیحات ورکړی.

| ورانديز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۲۰ دقیقې** | پای: ددې په اړه فکر وکړی چې د کیسې په پای کې به د کیسې لوستونکی یا اوریدونکی څه شی غواړي واوري یا پرې پوه شي او تاسو څه غواړی چې هغوی ته يې وواياست یا وښاياست. ځینې پوښتنې چې له تاسو سره کومک کولی شي په لاندې ډول سره دي:<br><br>• څه شی به کیسه د لوستلو دوام لپاره لا ډیره په زړه پورې کړي؟<br>• هغه ستونزه چې پیښه کیږي، د هغې د حل لاره باید څه واوسي او یا څه کیدای شي؟<br>• آیا تنظیمات په یوشان دي او که تغیر په کې راغلی دی؟<br>• کیسه به څرنګ پای ته ورسیږي او موږ به کرکټرونه په کوم حالت کې پریږدو؟ |
| **۲۰ دقیقې** | • د توصیفي کلماتو په کارولو سره د اصلي کرکټرونو په اړه توضیحات اضافه کړئ. (توصیفي کلمات هغه کلمې دي چې د شیانو د توضیح/تشریح کولو لپاره کارول کیږي.) د هر کرکټر لپاره لږ تر لږه ۳ توصیفي کلمات (صفتونه) وکاروئ. د بیلګې په توګه: یو ګلابي رنګه خرس، یوه ښکلې سوی (خرګوش)، یو ګرکوټي ویښتان لرونکې جلکۍ او داسې نور. تاسو کولای شي همدا معلومات او جزئیات په خپلو رسامیو کې هم ځای پر ځای کړی که چیرته اړتیا ورته لیدل کیږي.<br><br>دا صفات د کرکټرونو انځورونو سره یوځای کړئ. دا صفات په یوه ټیبل کې ولیکئ: |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| لومړی کرکټر | دوهم کرکټر | دریم کرکټر |
|---|---|---|
| - ګلابي<br>- ښکلی<br>- نرم | - قوي<br>- لوړ<br>- پیاوړی | - ګړندی<br>- انعطاف پذیز<br>- سره ویښتان |

؛

د کیسې په هره برخه کې د کرکټر احساسات تشریح کړئ: د کیسې په پیل، وسط، او پای کې.
آیا دا کرکټر خوشحاله، خواشینی او که په قهر دی؟

- د کیسې په اوږدو کې د کرکټرونو د احساساتو په اړه فکر وکړئ. ددوی ددغه احساس کولو لامل څه وه او کوم شي ددوی دا احساس له مینځه یوړ.
- د کیسې په پیل، منځ او پای کې د کرکټر د احساساتو د پوهیدلو لپاره یو د احساس د اټکل کولو تخمین کوونکی چمتو کړئ. هغه زده کوونکي چې ستر دي کولی شي چې یو څو جملې د همدغه ترتیب لپاره ولیکي.

په یاد ولرئ: د لیکلو په مهال تاسو کولی شی هم له صفتونو څخه کار واخلی او هم د تعجب د علامې څخه کار واخلئ. باید په یاد مو واوسي چې د تعجب نښه (علامه) هغه وخت کارول کیږي کله چې یو څوک واغواړي خپل احساسات په ډیر ژور شکل سره وښايي.

ټیمي چې یو لوی ډیناسور وه، ډیر یواځې او خواشینی وه ځکه هیڅا نه غوښتل له هغه سره ملګرتیا وکړي ځکه له هغه څخه ټول خلک ویریدل.

ټیمي هغه مهال له خپل یو ملګري سره مرسته وکړه چې دا ملګری یې په کړکۍ کې بند شوی وه او دوی یوه نوې لوبه پیدا کړه: هغوی د ټیمي په ملا باندې د ښښیدلو لوبه پیدا کړه.

ټول ډیر هیجانې شوې ول او هر یو غوښتل چې د ټیمي په ملا بندې د ښښیدلو لوبه ترسره کړي.
د ټولو ډیر ساعت تیر شو.

## پینځمه ورځ

نن ورځ به تاسو کیسه د یو کتاب په بڼه یوځای کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۵ دقیقې** | د ورقې په قاتولو سره تاسو کولی شی یو درې مخ لرونکی کتاب جوړ کړی (پیل، منځ او پای) او د صفحې (مخ) په پای کې د صفحې نمبر هم ولیکی. |
| **۲۰ دقیقې** | ● هغه مختلف تصویرونه چې تاسو په تیرو څو ورځو کې جوړ کړې ول پرې کړئ او د کیسې د ترتیب په بڼه یې په همدغې ورقې باندې سریښ کړئ. د بیلګې په توګه: پیل، وسط (منځ)، او د کیسې پای. همدا راز د کیسې د ترتیباتو (مکان) او د کرکټرونو تصویرونه پکې اضافه کړئ. ددې سربیره، د احساساتو د اندازه کولو میټر څخه تصویرونه او داسې نور هم پکې ځای پر ځای کړئ.<br>● که چیرته اړتیا وي، اضافي انځورونه هم رسم کړی او پکې یې اضافه کړئ. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | | |
|---|---|---|
| | • | کله چې تصویرې/تحلیلي کتاب چمتو شو، هغه زده کوونکي چې ستر دي باید د کیسې په اړه په هره صفحه کې یو څو جملې ولیکي ترڅو کیسه په هره صفحه/ورقه کې بشپړه کړي. هغوی کولی شي دا مالومات د هغو جملو څخه ترلاسه کړي چې مخکې یې لیکلي ول. باید په یاد ولرئ چې د پای نقطه، د پوښتنې نښه، د تعجب/ندایې نښه درڅخه له هیره ونه وځي. |
| **۵ دقیقې** | • | اوس د کتاب لپاره یو نوم (عنوان) انتخاب کړئ او د کتاب د پوښ په مخ باندې خپل نو د لیکوال په حیث ولیکئ. |
| **۱۰ دقیقې** | • | اوس کتاب دې ته چمتو دی چې د خپلو د کورنیو له غړو سره یې شریک کړئ. |
| | • | د هغو نظرونو په بنسټ چې ستاسو کیسې ته یې ستاسو د کورنۍ غړي او یا ملګري درکوي، د کتاب د لا پیاوړتیا او ښه والي لپاره وکاروئ. همدا راز، د هغو موضوعاتو به اړه فکر وکړئ چې تاسو ترې ډیر خوند واخیست او یا تاسو ته ډیر ستونزمن وه. |

د ارزونې معیارونه:

- یوې کیسې سره نوښت
- د نقاشیو او کیسې نقشه روښانه کول او توضیح کولد
- د لیکل شوي لیکنې ساده والی او بشپړتیا
- د ژبې د ټولو مختلف قواعدو په پام کې نیول او کارول (د ندایي نښه، صفت، او داسې نور)
- د کیسې ترتیب او مهال ویش
- په کیسه کې د ستونزې ادغام او د حل لاره

اضافي د غني کوولو فعالیتونه

- زده کوونکي کولی شي چې اضافي لیکنه اضافه کړي
- زده کوونکي کولی شي چې یوه د وقایې ورقه (د کتاب مخ) جوړ کړي.
- زده کوونکي کولی شي د کتاب د پوښ شاته صفحه (وقایه) جوړه کړي چې په هغې ورقې باندې یې د کیسې لنډیز او د کورنۍ د غړو نظرونه پرې لیکلي وي.

د آسانه کوولو لپاره بدلونونه

زده کوونکي کولی شي چې ټولې لیکنې حذف کړي ترڅو یو بې کلمو یا انځوریز کتاب جوړ کړي.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## یو تنها سپی د خپل یواځیني ملګري سره


یو تنها سپی د خپل یواځیني ملګري سره

یوه ورځ یو سپي چې یو ملګری یې درلود وغوښتل چې نور ملګري پیدا کړي، مګر هغه ونتوانید چې داسې وکړي ځکه چې هیچا نه غوښتل چې د هغه سره ملګری شي ځکه چې دوی فکر کاوه چې دا سپی ظالم دی. په دې کار سره هغوی دده احساسات زیانمن کړل. کله چې سپی کور ته راغی، ډېر غمجن و او په ژړا یې پیل وکړ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7


## ۲ ضمیمه: د کیسې نقشه






EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

دریمه ضمیمه: د کیسې نقشه




۴ ضمیمه: د مزاج اندازه کوونکی



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

د مزاج اندازه گیر

| پیل | وسط | پای |
| --- | --- | --- |
| • ______ | • ______ | • ______ |
| • ______ | • ______ | • ______ |
| • ______ | • ______ | • ______ |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7